
**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د ترکیې امنیتي ځواکونو استاد یلماز سیلیک ونیو**

(ژباړه)




**خبر**

د ۲۰۱۷م کال د جون په ۲۶مه چې د روژې مبارکې میاشتې له۲۹مې شپې سره سمون لري، د ترکیې امنیتي ځواکونو استاد یلماز سیلیک چې له خپلو یو شمېر ورونو سره په روژه ماتي بوخت وه، ونیوه.

**تبصره**

د اوردغان په اړه تر ټولو غوره خبره دا ده چې دی هم له خپلو ورنو (نورو ظالمو حکامو) سره هیڅ توپیر نه لري. نوموړی د هغوی په څېر د اسلامي دعوت له حاملینو پرته له بل هیڅا وېره او خطر نه احساسوي، هغه دعوتګران چې د ذلت له دغه حالته د امت د ژغورلو او بېدارۍ لپاره شپه او ورځ هڅه کوي. دغه ظالمان له خپلو امنیتي ځواکونو، استخباراتو او جاسوسانو څخه یوازې د مخلصو دعوتګرانو د مخنیوي او ځورولو لپاره ګټه اخلي؛ په داسې حال کې چې د دعوتګرانو یوازینۍ وسله په الله سبحانه وتعالی قوي ایمان دی او هیڅ مادي عمل نه کوي، چې د دغه ډول وحشت وړ وي.

دعوتګران خلک له ژور او هر اړخیز فکر پرته نور څه ته نه رابولي. هو! دا ایمان او فکر دی چې ظالمان تر ټانګ او توپ ډېر له دوی وېرېږي. کله چې اوري او یا ویني چې دعوتګران په خپله لاره کې ثابت قدمه دي، دعوت یې دوام لري، د دعوت لپاره قرباني ورکوي، خلک پرې راټولېږي او خبرو ته یې غوږ نیسي او له دعوتګرانو سره یو ځای دعوت پر مخ وړي، دوی له ډېرې وېرې لړزېږي او تر پوزې رسېدلي. په رښتیا چې د دغو ظالمانو واقعیت د فرعون له واقعیت سره هیڅ توپیر نه لري، چې د الله سبحانه وتعالی د رسول (موسی علیه السلام) او مومنانو په اړه یې ویلي:

**(إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ۝ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ ۝ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ)**

[شعراء: ۵۴-۵٦]

***ژباړه:*** *په رېښتیا چې دغه لږ خلک دي، دوی ډېر په غوسه کړي یوو او موږ ټول مبارزې ته چمتو یو.*

له اردوغان (دغه ظالم حاکم) څخه زموږ پوښتنه دا ده چې استاد یلماز سیلیک څه جنایت کړی و، چې د روژې په مبارکه میاشت کې، چې د قران کریم د نزول میاشت ده، له خپلو ورونو سره د روژه ماتي پر

وخت کې ونیول شو، د دغه استاد جرم څه و چې پر پنځلس کاله بند محکوم شو؟ ایا استاد یلماز مخدره توکي قاچاق کړي وو، غلا او که یې قتل کړی و؟ په الله سبحانه وتعالی قسم چې دی له داسې جنایتونو پاک و؛ بلکې یوازینی جرم چې ده کړی دی، د نبوت پر تګلاره د اسلامي خلافت بیا راژوندي کولو لپاره د نوموړي هڅې وې. د استاد جرم دا و چې له خپلو تحریری ورونو سره یې یو ځای له دمې پرته اوږه پر اوږه کار کاوه.

تاسې ظالم حکام، باید لږ وشرمېږئ! ستاسو حکومت په دغو کلونو کې امت ته له بدبختۍ پرته بل څه نه لري او داسې څوک نشته چې ستاسې تر حاکمیت لاندې یې یو شېبه هم د امنیت احساس کړی وي؛ مګر له هغو یهودانو، نصرانیانو او سیکولرانو پرته چې اسلامي مقدساتو ته سپکاوی کوي او د اسلامي ارزښتونو پر وړندې مبارزه کوي. هغوی په پوره ازادۍ د اسلام پر وړاندې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړی او څوک مزاحمت نه ورته کوي. نه چا تعقیب کړل، نه یې د هغوی مخه ونیوله او نه یې محکمه کړل، چې د بیان ازادي یې محدوده نشي؛ بلکې هم جنسګران او اخلاقي مفسدین په اسانۍ خلک له ستونزو سره مخ کوي.

د لوڅو او بربنډو ساحلونه چې د فاسقانو او خوش ګزرانو د راټولېدو مرکز دی، اوردغان هېڅکله هغوی ته مزاحمت نه کوی؛ تر دې چې د اقتصادي ګټو د ساتلو په پلمه یې په رسمي ډول هغوی ته زمینه برابره کړې ده، په دې دلیل چې هغوی شخصي ازادي لري او باید ازادي یې محدوده نه شي، څوک د هغوی نه مزاحم کېږي؛ خو مخلص دعوتګران هغه کسان دي چې اردوغان او ملګري یې تل زور او فشار ورباندې راوړي. الله سبحانه وتعالی دې تاسې ته د خپلو اعمالو سزا درکړي، څنګه له حق څخه کږېږئ؟

له دعوتګرانو سره ستاسو ظالمانو چلند له مومنانو سره د نمرود د چلند په شان دی، چې الله سبحانه وتعالی یې په اړه فرمایي:

**(وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ)**

[بروج: ۸-۱۰]

*ژباړه: له مومنانو سره د هغو دښمني له دې پرته په نور څه نه وه، چې مومنانو په هغه الله ایمان راوړی و، چې برلاسی او په خپل ذات کې پخپله ستایل شوی دی. هغه ذات چې د اسمانونو او ځمکې د پاچاهی څښتن دی او الله هر څه ګوري. چا چې پر مومنو نارینه او مومنو ښځو ظلم او تېری وکړ او بیا یې توبه ونه ایستله، هرو مرو د هغو لپاره د دوزخ غذاب او سوځوونکی اور دی.*

ظالمانو! ستاسو دغه جګړه د اسلام پر وړاندې جګړه ده، تاسې د خپلو بادارانو په شان پر خپلو تختونو یوازې له اسلام او دعوتګرانو څخه خطر احساسوئ. له یاده مه باسئ چې په پای کې به قافله د پرهېزګارانو په ګټه تمامېږي او ډېره ژر به په ګډه هغه ورځ ووینو.

**محمد ابوهشام**

**د ۱۴۳۸هـ.ق، د شوال۷مه**

**د ۲۰۱۷م، د جولای ۱**